# "طلبِ مذهب" يو اسلامي کتاب

**An Analysis of "Talab-e-Mazhab" A Religious Book**
پروفیسر ډاکټر عبدالعلي اڅکزی[*]
حافظ رحمت نیازی[**]

**Abstract:** *Mula Abdul Salam Ashezai (1881-1974) used to be local poet raised voice against the British rule over Balochistan in his poetry besides reformation in the society particularly in his poetry collction SUSAN-E-CHAMAN. The writers investigates such practices of Abdul Salam Baba in his book TALAB-E-MAZHAB a religious books which not having discussion of Fiqa but also reformative aspects.The writers also unpacks the scholastic approach of Salam Baba and the pivotal role of this book during the then British regime.*

د نبي کریمﷺ له دنیا څخه د پردې کولو وروسته د اسلامي تعلیماتو د رسولو دهنده د اولیاوو، صلحاوو او علماوو په غاړه شوه، دغو صالحانو او عالمانو د انبیاء علیهم السلام غوندې د دین بې غرضه او بې عوضه خدمت کړی دی. تر قیامته به دغه رنګه مخلص او بې غرضه مشران پیدا کیږي او د دین خدمت به جاري ساتي. الله تعالیٰ د همدغه رنګه بې غرضو بندګانو د پیروي حکم کړی دی. لکه چې فرمائي:

اتبعوا من لایسئلکم اجراً و هم مهتدون. (1)

ژباړه: (یعني تاسې د هغو نېکانو په خولو کوئ چې له تاسې څخه په تبلیغ باندې عوض نهٔ اخلي او په خپله د خدای په ښوولې لار باندې سم روان وي).

د نړۍ د نورو سیمو غوندې په سهېلي پښتونخوا کښې هم زیات اولیاء کرام او ستر عالمان پیدا شوي دي چې هغو په ډېر اخلاص سره د دینِ اسلام تعلیمات د نظم او نثر په شکل کښې خلقو ته رسولي دي. په دغه نېکانو او مصلح کسانو کښې د پښتو ژبې يو نامتو شخصیت ملا

[*] Chairman, Department of Islamic Studies, UoB, Quetta
[**] M.Phil Scholar, Department of Pashto UoB Quetta

عبدالسلام اشېزی هم شامل دی چې په خپل وخت کښې ئې د امت د رهنمائۍ حق ادا کړ. ملا عبدالسلام بابا د پښتنو د مشهورې قبيلې اڅکزئي له يو ښاخ اشېزي سره تعلق لري، دی په 1300ھ کښې پيدا شوی دی او د شمسي کال پر 1974ء کښې د جنوري پر 26 تاريخ وفات شوی دی.

ملا عبدالسلام اشېزي څلور کتابونه "سوسن چمن" "طلبِ مذهب" "زردانه دُر" او "نوی طلبِ مذهب" ليکلي دي په دغه مقاله کښې به د هغۀ کتاب طلبِ مذهب يوه تجزيه پېش کولی شي.

طلبِ مذهب د ملا عبدالسلام بابا يو مهم او په زړۀ پورې کتاب دی. په زېړ کاغذ باندې په عزيز پرېس کوټه کښې په کال 1354ھ کښې چاپ شوی دی چې څلور سوه دوولس مخونه لري، دا کتاب ملا عبدالسلام بابا د 1354ھ د شوال په مياشت کښې شروع کړ او د 1355ھ د ذی الحجې په مياشت کښې يعنې په څوارلسو مياشتو کښې ئې پوره کړ. لکه چې دی په خپله وائي:

اقول مؤلف الحروف اضعف العباد عبدالسلام قد شرعت فی تسويد طلب المذهب بسنه الف و ثلث مائة واربعة و خمسين (1354 هـ) يوم الجمعة وقت الضحٰی عشرون الشوال و فرغت عنه سنة الف و ثلٰث مائة و خمسة و خمسين (1355هـ) يوم الاحد ثامن ذوی الحجة فی وقت الظهر"(2).

ژباړه: (زۀ عاجز بنده عبدالسلام جمع کوونکی د دې حروفو دا وايم چې ما د دې کتاب "طلبِ مذهب" په ليکلو کښې په کال يو زر درې سوه څلور پنځوس، د کوچني اختر د مياشتې په ورځ د جمعې مبارکې په وخت د څاښت پيل وکړ او د دې کتاب له ليکلو څخه په کال يو زر درې سوه پينځۀ پنځوس په ورځ د يکشنبې په وخت د ماپښين د لوئ اختر د مياشتې په اتم تاريخ فارغ شوم).

که څۀ هم په دغه کتاب د چاپ کال نۀ دی ليکلی شوی خو له دغه پورتني عبارته او په دغه کتاب کښې له نورو اشعارو څخه دا معلومېږي

چې ملا عبدالسلام بابا د دغه کتاب د پوره کولو وروسته په 1355هـ بمطابق 1934ء کښې خپور کړی دی لکه چې نوموړی وائي:

ماپښين ووت د خمه :: شپې د حج وې ورځ اتمه
ديارلس نيمه سوه سنه وه :: پينځۀ کاله زمانه وه
په شنبه انګور پاخۀ شو :: بهار نوی د ښاخۀ شو(3)

لکه څرنګه چې د نامۀ څخه ښکاري دغه کتاب په اسلامي تعليماتو باندې مشتمل دی. د کتاب په ابتدا کښې سلام بابا په څو مخونو باندې د عربي رسم الخط د زده کولو دپاره شپاړس (16) قاعدې ليکلې دي. دغه قاعدې د بغدادي قاعدې په طرز ليکل شوې دي. او زياتره کليمې د بغدادي قاعدې څخه اخستل شوې دي. دغه رنګه په دې کتاب کښې عربي او پښتو حروف تهجي هم ليکل شوي دي. ملا عبدالسلام بابا په دې کتاب کښې ايمان مفصل، اذان، د لمانځۀ ترکيب او په لمانځۀ کښې د ويلو کليمې هم ليکلې دي. دغه رنګه ملا عبدالسلام بابا په پينځۀ وخته لمونځونو کښې د قرات مقدارونه او د مسافر د لمانځۀ طريقه هم ورکړې ده. له دې سره سم د جنازې د لمانځۀ نيت او د هغه طريقه او دعاګانې هم ورکړې دي"(4).

د اسلام د دغه مهم رکن يعنې لمانځۀ په اړه دغه معلومات ورکولو سره سره ملا عبدالسلام بابا په اشعارو کښې د روزې، زکوٰة او حج په اړه اهم فقهي مسئلې، وعظ، نصيحت او نور اسلامي معلومات بيان کړي دي. د طلبِ مذهب څخه ټول پښتانۀ ډېره ښه فايده اخستلی شي. دا کتاب په ډېره اسانه پښتو کښې ليکل شوی دی. د دې کتاب په شروع کښې ملا عبدالسلام بابا د الله تعالیٰ حمد و ثنا دغه رنګه بيانوي:

"صفت هغه له لائق دی :: چې دی زما و ستا خالق دی
د شرقه سه لمر بيائي :: حمد بې حده دۀ له ښائي
د هر چا روزي رسانه :: ورکوي رزق په اسانه" (5)

د حمد و ثنا بیانولو وروسته عبدالسلام بابا څۀ داسې قیصې بیان کړې دي چې د هغه ځخه دا معلومیږي چې په هغه وخت او په هغه علاقه کښې په خلقو کښې جهالت څومره عام ؤ. یوه قیصه په داسې انداز کښې بیانوي:

"بـل امـي ؤ دا تبنـي :: حـق بـه وایـم خـدای ﷻ مې وینـي
مـا لـه راغـی بـې ادبـه :: نـاخبره د مذهبـه
دا قیصه ئې کـړه اغـازه :: چې یو پـلار لـرم اسـتاذه
زمونږ مـور مـړه شـوه بې ماینې دی :: خـوار د بلې زمـانې دی
سکه زمـا د اکـا لـور ده :: خلاصـه کونـډه د تربـور ده
که و دۀ تـه دا روا ده :: در پېغـور پـورې حلـوا ده
چې ماینـه ئې کـړي محتاجـه :: و تـای نـۀ شـو د رواجـه" (6)

دی د جهالت او ناخبری یوه بله قیصه داسې کوي:

"مـونږ پـه لاري تلـو دوه کسـه :: یـو مـړ پـروت ؤ بـې نفسـه
ورلـه راغـی خاونـد روی :: پسـه ئې یـو وي مـردار شـوی
پـه اتـۀ ؤ کـه پـه شپږ دۀ :: روپـی خـرڅ کـړ دا مـړ مـړ دۀ" (7)

دغه رنګه له یو څو قیصه بیانولو وروسته دی لیکي چې په معاشره کښې جهل عام دی:

"که سپین ږیری دی که ځوان دی :: که هلك دی زمونږ که خان دی
ډك د شـنۀ جهلـه قدیمـه :: ښـځې واړه بـې تعلیمـه" (8)

پـر مـخ عبدالسلام بابا لیکي چې دغه جهالت او د اسلامه ځخه بې خبري زما د دغه کتاب د تصنیف سبب دی:

"پښـتانۀ ډېـر ناپوهـان دي :: بـې خبـره د جهـان دي
خـاص د دې نصـیحت وړ دي :: و پښـتو ژبـه تـه اړ دي
خدایه! ستا توفیق مو مل کړې :: نور د علم راته بل کړې
پـه کتـاب مشـغوله کېـږم :: د پـاکۍ پـه رود ګـډېږم" (9)

مقدس خان معصوم د دې کتاب په حقله داسې ليکي:

"د سلام بابا "طلبِ مذهب" د خپل قوم دپاره ډېر په زړۀ پورې خوند او فايده لري او دا ئې په خپل قوم باندې ډېر احسان دی چې په منظوم شکل کښې ئې قوم ته وړاندې کړی دی. چونکې د نثر په مقابله کښې نظم د انسان په زړۀ باندې ډېر اثر اچوي نو د عبدالسلام اشېزي نيت او غرض هم دا ؤ چې هغه د خپل قوم روحاني تربيت په اجتماعي ډول باندې وکړي نو ځکه ئې دغه احکام منظوم کړي دي"(10).

ملا عبدالسلام قرآن مجيد د ټولو علومو سرچينه بولي، هغه وائي که چرې د جهالت له تيارو څخه راوتل غواړئ نو له قرآنه څخه ځان خبر کړئ. دی ليکي:

"د قرآنه ځان خبر کړه :: حق د هر همسايه ورکړه
د زړۀ تور پانوس صفا کړه :: دا ښيښه ګرزوه پاکه
د قرآن نور په کښې کښېږده :: لاړ نۀ ويني جهل پرېږده" (11)

ملا عبدالسلام بابا په پښتنه معاشره کښې د بدعاتو سخته غندنه کوي خصوصاً د ښځو و زيارتونو ته د تګ ډېر مخالفت کوي دی ليکي:

"بخمل واغوندي په ښځو :: لاس ورسرۀ کړي په نکريځو
نو زيارت له شي روانه :: لکه ناوې ښځه ځوانه
د زيارت مينده ملنګ وي :: ناست له دې سره په څنګ وي
په قلا عبدالله خان کښې :: شته دا حال په نن زمان کښې
زيارت څۀ کوئ مېلـه ده :: و حرامو ته حيله ده
دا چې ښځې و اميان اوس :: وړي زيارت له څۀ شيان اوس
نذر خاص د مړۀ دپاره :: په دې ډېر دی ګنهګاره
يا خو تېل وروړي د څراغ دوئ :: يا نور پسونه بيايي چاغ دوئ
که را جوړ زما رنځور دا :: زۀ به زر درکړم ضرور دا" (12)

ملا عبدالسلام په خپل دې کتاب کښې ټول ذهني طاقت په حقيقت او شريعت صرف کړی دی. دۀ په قدم قدم مسلمانو ته د حقې لاربښودنه

کړې ده. د انسان د پيدائش نه واخلې عين تر لحده پورې چې هرڅۀ او هر عمل د انسان له دين او اخرت سره تعلق لري هغه ټول ئې په ډېر ساده انداز کښې وړاندې کړي دي. لکه څۀ رنګه چې دی د عقائدو په باره کښې داسې ليکي:

"د باري پروردګار ته :: ټينګ تصديق وکړه اقرار ته
بنده! ورځ د اخرت شته :: بيرته ژوند او عدالت شته
خالق ومنه فرمان وړه :: امر و نهي د قرآن وړه
حق دي ټولـه ملايکې :: هم راتلې وحي چابکې
قبلوه پيغمبران ګرد :: اوليـاء لا پر خدای ګران ګرد
دۀ پيدا کړو ښۀ او بد ټول :: هر جهان کور و لحد ټول
خدای خالق د خير و شر دی :: محمد ﷺ مو پيغمبر دی" (13)

ملا عبدالسلام څلور واړه فقهي مذهبونه حق بولي. په دې حقله داسې ليکي:

"مذهبونه لوئ څلور دي :: ټينګ ارکان د دين د کور دي
حنفي د پښتنو دی :: نن پر ټولو وطنو دی
مالك احمد شافعي دی :: هر يو ستوری شرعي دی
دا څلور مذهبه حق دي :: د قرانه سره مشتق دي
سم په دغه اعتقاد شه :: مه کږېږه کلك پولاد شه (14)

ملا عبدالسلام بابا مخته مسلمان د شيطان او نفس د حملو څخه خبروي او داسې وائي:

"د ابليس را سره جنګ دی :: دنيا لوئ ژور د ګړنګ دی
غوروزوي تردې تنګي تا :: شيطان اخلي پر زېنګي تا
د جنته سره آدم لا :: واوت هم د دۀ په چم لا
په شهواتو نفساني نن :: در سره ځي مسلماني نن
سترګې روښې کړه ناورين دی :: څۀ راز خوار ضعيفه دين دی
د شيطان د لارې واوړه :: توبه کاږه ايمان راوړه

کـه د دې لعـين پـر پلـۀ شـوې :: ولاړې خـاورې دې پـه خولـۀ شـوې" (15)

مـلا عبدالسـلام بابـا پـه خپـل دې کتـاب کښـې د اخـرت ذکـر هـم کـوي او خبـرداري ورکـوي چـې د ژنکـدن او مـرګ وخـت راتلـونکی دی. ښـائي چـې د دې دپاره تیاري ونیسئ دی لیکي:

"نــژدې راغــی زکنــدن اوس :: ملايــان ځيــري کفــن اوس
مــلا کـړه شـوه وېښـتۀ سـپين شـو :: ځـواني ولاړه کـوچ يقـين شـو

نــۀ بــه مــرګ بيــولي کــور تــه را ايلــه شــي
نــۀ بــه راشــي د ځــوانۍ تېــر شــوی وار بيــا
نــۀ بــه بيــا د منجلســي بلبلــې ږغ شــي
نــۀ بــه شــي پــه خــوب بيــدۀ زړۀ را بيــدار بيــا
نــۀ بــه ګــاهي بېلتــون زمــونږ د ميــان ووزي
نــۀ بــه وشــي ملاقــات ســره د يــار بيــا
زړۀ راوغــــــورزاوئ مــــــرګ هــــــم
غــــړي وتښــــتېدو غبــــرګ هــــم" (16)

مــلا عبدالســلام بابــا پــه دې خبــره ډېــر افســوس ښــکاره کــوي چــې د پښــتنو پــه معاشــره کښــې و ښــځو تــه حــق نــۀ ورکــول کيــږي او پــه ښــځو بانــدې ظلم کيږي. دی وائي:

"حـق د ښــځو څــۀ راز خـورو مـونږ :: پــه قـرآن بـاور لـرو مـونږ
خرڅـــوو لـــوڼې و خوينـــدې :: لامـــو غـــاړې نـــۀ دي بنـــدې
ځلـــه وړو کنـــډې خـــوارانې :: لکـــه عـــين کـــافرانې
نـــو پـــه زور د چـــا مـــاينې شـــي :: لنګـــې دغـــه پښـــتنې شـــي
چـــې ســـبا د دوئ عيـــال وي :: پـــر څـــۀ قســـم بـــه حـــلال وي
کـــه ميـــراث دی کـــه ولـــور دی :: يـــا د ښـــځې څـــۀ زيـــور دی
لاس ور ورســـوي غـــل دا :: مـــردار خـــوري لکـــه عســـل دا" (17)

د دې کتــاب يــو اهــم خصوصــيت دا دی چــې مــلا عبدالســلام بابــا پــه کښــې بيــان شــوې مســئلې د قــرآن او حــديث پــه آيتونــو او حــديثونو ثــابتې

کـړې دي او لــه دې سـره سـره د اهمـو تفاسـیرو او فقهـې کتـابونو حـوالې ئـې هـم ورکـړې دي. لکـه څـۀ رنګـه چـې دی د سـود خـورو پـه مـذمت کښـې د دې آیت حواله ورکوي:

"الـذين يـاكلون الربـوٰا لايقومـون الاكمـا يقـوم الـذى يتخبطـه الشـيطان من المس" (18). (البقره 2: 275)

ژبـاړه: (کـوم خلـق چـې سـود خـوري هغـه بـه نـۀ شـي ولاړ (پـه ورځ د قیامـت) مګـر داسـې لکـه هغـه څـوك چـې ولاړېـږي چـې هغـه شـیطان بـه لاس وړلو سره بد حواسه کړي دي).

دغــه رنګــه هغــه لمــونځ ګــزاره چــې د امــام څخــه مخکښــې د لمانځــۀ ارکان ادا کوي د هغو د دغه **فعل** په غندنه کښې دغه حدیث بیانوي:

"قـال صـلى الله عليـه وسـلم، امـا يخشٰـى احـدكم اذا رفـع راسـه قبـل الامـام ان **يجعل** الله راسه راسا حمارا او **يجعل** الله صورته صورتا حماراً. (19).

ژبـاړه: (نبـي کـریمﷺ فرمـائیلي دي: ایـا نـۀ وېریـږي پـه تاسـو کښـې هغـه څـوك چـې خپـل سـر د امـام څخـه (پـه لمانځـۀ کښـې) مخکښـې را پورتـه کـوي چې الله تعالیٰ به د دۀ سر یا د دۀ بدن د خرۀ په ډول وګرځوي).

مــلا عبدالســلام بابــا زیــاتره د بحرالرائــق، مبســوط، ردالمختــار او د نـورو فقهـي کتـابونو حـوالې ذکـر کـوي. د مثـال پـه توګـه پـه حرامـو بانـدې د مدد کولو په مذمت کښې د مبسوط دا روایت را نقل کوي:

والاعانـة علـى المعصـية معصـية قـد سـمى رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم المعـين شـريكا ولان الواجـب عليـه ان يـامره بـالمعروف وينـاه عـن التعـرض فـاذا اشـتغل بالاعانـة فقـد اتـى بضـد مـاهو واجـب عليـه فكـان عاصياً فيه. (مبسوط ج 4، مخ 96) (20).

ژبـاړه: (پـه ګنـاه بانـدې مرسـته ګنـاه ده، نبـي کـریمﷺ دغـه مـددګاره پـه ګنـاه کښـې شـریك بللـی دی. ولـې چـې پـر دۀ بانـدې دا لازم دي چـې دی پـه ښـو کـارو سـره امـر وکـړي او لـه بـدو څخـه منـع وکـړي نـو چـې دی پـه مـدد سـره مشـغوله شـو نـو د هغـه څخـه مخالفـت وکـړ کـوم چـې پـه دۀ بانـدې لازم ؤ نـو ځکه دی ګناه ګار شو.

دغه رنګه دی د اهمو تفاسیرو مثلاً تفسیر کبیر، روح البیان، تفسیر خازن، تفسیر احمدي او د نورو تفاسیرو حوالې هم ورکوي. مثلاً د مسجد د تعمیر په حقله وائي چې کافر مسجد نهٔ شي جوړولی:

"و کافر ته اباتي دا :: نشته مبوله راستي دا
چې د دهٔ نامي احسان خود :: منت دی پر مسلمان خود"(21)

او له دې وروسته په دې حقله د تفسیر کبیر څخه دا روایت را نقل کوي:

ولایجوز ان یسیر الکافر صاحب المنة علی المسلمین. (تفسیر کبیر ج 4، مخ 409) (22).

ژباړه: (او دا روا نهٔ ده چې مسلمان د کافر تر منت او احسان لاندې وي).

د کتاب په اخر کښې ملا عبدالسلام بابا د پښتو ژبې یو څو متلونه هم بیان کړي دي، مثلاً:

(1) ډېره زما ده کال خوائي د قاضي غلام ده. (2) عرض دې پر حاکمانو مه شه، رنځور دې پر طبیبانو مه شه. (3) چې غل نهٔ اوري مل دې واوري. (4) هم فقر کوې هم دې خر لغتې وهي. (5) چې شاځه وړم غرګي دي پر باندې وي. (6) که زهٔ نهٔ وایم خو زما ګوډه پښه به ووائي. (7) لمر په ګوته نهٔ پټیږي. (8) چې اوښ ولاړ مهار دې هم ورځي. (9) یتیم به کله خوار شي چې د ځان کال خوا پسې. (10) تر خپله کمبله پښې زیاتې مه غزوه. (11) په سپي اختر نهٔ کیږي. (12) هر چا ته خپل وطن کشمیر دی. (13) هندو زوړ شو مسلمان نهٔ شو. (14) چې ډب نهٔ وي هلته ادب نهٔ وي.(23)

غرض "طلبِ مذهب" یو داسې کتاب دی چې د سعدي د ګلستان او بوستان رنګه د وعظ او نصیحت په زړهٔ پورې واقعاتو او د فقهې مسئلو او حکمتو څخه ډک دی.

# حوالي

(1) یٰسین: 36، 21.
(2) اشېزی، مـلا عبدالسلام، طلبِ مذهب، کوټه، عزیز الیکټرك پرېس، 1355هـ، مخ 411.
(3) هم دغه، مخ 409.
(4) هم دغه، مخ 2 – 14.
(5) هم دغه، مخ 15.
(6) هم دغه، مخ 18.
(7) هم دغه، مخ، 19.
(8) هم دغه، مخ، 17.
(9) هم دغه، مخ، 29.
(10) معصوم، مقدس خان، عبدالسلام اشېزی په حېثیت د یو مصلح، مشموله د کوړك ستوری، (مؤلف عبدالرؤف رفیقي) بزم ادب چمن، 1987ء، مخ 149، 170.
(11) طلبِ مذهب، مخ 20، 22، 23.
(12) هم دغه، مخ 252، 253ت.
(13) هم دغه، مخ، 15، 16.
(14) هم دغه، مخ، 16.
(15) هم دغه، مخ، 16، 17، 75.
(16) هم دغه، مخ، 221.
(17) هم دغه، مخ، 347.
(18) هم دغه، مخ 209. د زیات تقصیل دپاره: مخونه: 211 تا 301. وګورئ.

(19) هــم دغــه، مــخ، 87. د نــور تفصــيل دپــاره: مخونــه: 116، 134، 235، 256وګورئ.

(20) هــم دغــه، مــخ 389. د نــور تفصــيل دپــاره: مخونــه: 45، 105، 135، 303، 317 وګورئ.

(21) هم دغه، مخ، 114.

(22) هم دغه، مخ، 114.

(23) هم دغه، مخ، 412.